د افغانستان اسلامي جمهوريت
د کورنيو چارو وزارت
د کندهار ولايت امنيه قوماندانې
د ترافيکو مديريت
د تعليم او تربيې آمريت

ترافیکی درسونه

د کندهار د ترافيکو مدير.....عبدالحميد(دولت زی)
د تعليم او تربيې آمر.....عبدالحبيب(افضلي)
راټولوونکئ ليکونکئ.....سيف الله (بسمل)

د ترافيکو تاريخچه :

لومړني انسانانو په سمڅو(مغارو) کي ژوند کوئ، ژوند يې په خورا ابتدايي مراحلو کي قرار درلود دوی خپل خوراکي توکي د ځنګلي نباتاتو څخه پوره کول، دژوند په دغه جريان کي په سمڅو کي د طوفانو، بادو، زلزلو او نورو طبيعي افتو په منځته راتلو سره ژوند ورته ګران سو، فکر يې وکړ چې دښتو، بدياو، د غرو لمنو او سمندرونو پر غاړه کورونه ودان کړي، همداسې يې وکړل، ټولنيز ژوند يې پيل کړ د عقل په انکشاف سره يې زراعت ته مخه کړه، يوو شمير حيوانات يې اهلي کړل، د خپلو اموالو د انتقال د يوه ځايه څخه تر بل ځايه پوري د تګ لپاره د همدغه حيواناتو څخه استفاده وکړه، همدغه وخت لومړني ترافيک په وجود راغلل.

په اروپا کي تر صنعتي انقلاب وروسته په (18مه) پيړۍ کي لومړنی موټر په وجود راغلی، همدا لړۍ انکشاف پيدا کړ، لومړنيو موټرانو په ښارو کي په غيري منظم ډول حرکتونه کول چې بيا يو شمير ټکرونه په وجود راغلل، د هغه وخت د ضرورت سره سم د ښاري نظم د تنظيم لپاره پوليس ترافيک په وجود راغلل.

په افغانستان کي د عيناً لکه په نوره نړۍ کي چې مخکي موټر نه وو د تګ او راتګ او اموالو د انتقال لپاره د آس، اوښ، مرکب او فيلانو څخه د نقليه وسايطو په توګه کار اخيستل کيدی، نورې ټرانسپورټي او مواصلاتي لارې چارې نه وې موجود.

په لومړي ځل په (۱۹)پيړۍ کي د امير حبيب الله خان د واکمنۍ پر مهال افغانستان ته دوه عرادې نقليه وسايط ورکړل سول، ترافيکي سيستم او اصولو په تدريجي ډول سره د پرمختګ په حال کي وو، د آمر امان الله خان په وخت کي يې په بېساري ډول سره خپل د پرمختګ مراحل طی کړل په (۱۳۴۲) ه ش کال کي د ترافيکي پوليسو اداره چې په ښاروالۍ پوري مربوط وه، ورځخه جلا او په کورنيو چارو وزارت پوري مربوط سول، د ولاياتو د امنيه قوماندانۍ تر چتر لاندي يې فعاليتونه مخته وړل شروع کړل چې تر دامهاله جريان لري.

ترافيکي اصول مقررات:

لومړی درس:

ترافيک څه ته ويل کيږي؟

تعريف:هر هغه شی چې د يوه ځايه څخه بل ځای ته حرکت کوي هغه ته ترافيک ويل کيږي.

عموماً په ټوله نړۍ کي ترافيک پر دري ډوله دي.

۱ : هوايي ټرافيک

۲: بحري ټرافيک

۳: زميني ټرافيک

*هوايي ټرافيک هغه دی چي په هوا کي حرکت کوي : لکه طيارې

*بحري ټرافيک هغه دي چي په اوبو کي حرکت کوي: لکه کښتۍ

*زميني ټرافيک هغه دي چي ځمکي پر سر حرکت کوي: موټر، ريل ګاډۍ...

زميني ټرافيک بيا پر دري ډوله دي:

۱ : د ماشين په واسطه ۲: د انسان يا حوان په واسطه ۳: پياده ټرافيک

*اولیت پياده ټرافيکو ته ورکول سوی.

پوليس ټرافيک : هغه کسان دريشي يې اغوستې وي، خاص خولۍ يې پر سر وي او د ښار په نظم کي مرسته کوي قانون هغه ته پوليس ټرافيک وايي.

مور چي کله د ساده ټرافيک نوم اورو، هغه هر هغه شی چي د يوه ځای څخه بل ځای ته حرکت کوي.

دوهم درس:

چلوونکئ بايد په جاده کي کوم اصول عملي کړي؟

د چلولو پر مهال کومې نقطې په نظر کي ونيسي؟

*چلوونکئ بايد په ترافيکي قوانينو پوه وي.
*قانون وايي چي چلوونکئ بايد په جاده کي د تيز رفتار څخه ډډه وکړي.
*هيڅ وخت او هيڅ چيري ترافيک بايد تيز رفتار ونکړي.
* که چلوونکئ احتياط وکړي څو شيان به يې پر ځان عملي کړي وي.
۱ : د ځاني تاوان څخه يې ځان وساتئ.
۲ : د مالي تاوان څخه يې ځان وساتئ کوم چي وسايط په کښي خرابيږي.

۳ : د بیت المال له تاوان څخه یې ځان وساتئ کوم چې سړک ته په کښې زیان رسیږي.
۴ : ایماني او وجداني دنده داده چې چلوونکئ باید عوامو د تاوان څخه ځان وساتي.
محترمو چلوونکو!
*تاسې چې کله جادې ته داخلیږئ هیڅ وخت د تیز رفتار څخه استفاده مه کوئ.
*په افغانستان کې قانون دی چې موټرونه راسته طرف ته چلول کیږي، هیڅ وخت باید د جادې پر مینځ ولاړ نسو.
*د چا د کور یا دوکان مخته او یا چیرې چې پارکینګ نه وي هلته باید پارګ ونه سي.
په جاده موټر راونه ګرځوو.

دریم درس:
*هر هغه وسایط چې په ساعت کې 30 کیلومتر تیزوالی ونه لري د ټرافیکو په قانون کې عمومي جادې ته نسي داخلېدای. باید پر فرعي سړکانو باندې ولاړ سي او یا هم پر کوڅو باندې ولاړ سي.
د هغه څخه عبارت دی :
د لاس ګاډی ، بایسکل، د آس ګاډی او داسې نور کرار شیان .
دوی چې کله پر عمومي سړکانو ځي د تیز رفتاره موټرانو مخه نیسي.
خو که چیرې فرعي سړکان یا کوڅې نه وي بیا کولی سي چې په جاده کې پر راسته طرف ولاړ سي.

څلورم درس:
*د کور څخه جادې ته داخلېدل، د سړک د غاړې څخه جادې ته داخلېدل او یا هم د پارکینګ څخه جادې ته داخلېدل هم ځانته اصول لري.
۱ : که چیرې ستاسې موټر په پارکینګ کې ولاړ وو او حرکت مو کوئ لومړی مو شاوخوا موټر چک کړئ کېدای سي انسان یا حیوان مو د موټر سایې ته پروت وي، خدای مکړه حرکت مو په زیان تمام نسي.
*کله چې حرکت کوې ایشاري ایله که، په هنداره کې نورو ترافیکو ته وګوره کله چې اطمناني سوې چې څوک نسته حرکت وکه.
۲: کله چې د خپله کوره، پارکینګه او یا فرعي سړکه جادې ته راوزې په دې وخت کې قانون وایي اول حق د هغه چا دی کوم وسایط چې پر عمومي جاده مخکې لا روان وي.
*تاسې جادې ته نوی داخلیدونکئ یاست لومړی شاوخوا وګوره که راسته لاس ته ګرځېدې خپل وسایط ته دي لنډه کاتې ورکه د راسته لاس ایشاري به دي هم ایله وي.

*او که چیري چپه لاس ته ګرځېدې نو د چپه لاس ایشارې ایله که او وسایط ته دي اوږده کاتې ورکه .

پنځم درس:

د یو هیواد ټرافیک په څلور ډوله تنظیږي:

۱: پولیس ټرافیک چې لومړی د اعتبار وړ هم دوی ګڼل کیږي.

۲: برقي سیګنالونه (ایشارې)

۳: ټرافیکي نښې (لوحې)

۴: د حق اولیت قاعده.

شپږم درس :

سرعت یا تیزوالی:

*قانون وایي تاسې خپل وسایط په دومره سرعت وچلوئ کوم چې تاسې حاکمیت پرې ولرئ، د ټرافیکو په قانون کي د هرځای د تیز والي اندازه ښوول سوې.

*په زیاتو ځایو کي د ټرافیکو کیلومتر لوحې په دې موخه لګېدلې چې تاسې ته د سرعت اندازه در وښیي.

مثلاً: تاسې ته د80 کیلومترې لوحه په مخه درځي که تاسې تر دې په اضافه سرعت ولاړسئ د قانون څخه مو سر غړوونه وکړه.

اووم درس:

د وسایطو په مینځ کي فاصله:

*قانون وایي تاسې باید د بل وسایط څخه دونه فاصله ولرئ که چیري یو وسایط یو دم دریږي او یا خرابیږي تاسې باید په دغه جریان کي خپل وسایط کنټرول کړائ سئ.

*په ښار کي باید وسایط ددرو څخه تر څلورو مترو فاصله وي او په اطرافو کي د سرعت په اندازه فاصل ولري.

* که تیز ځئ فاصله مو باید ډیره وي که کرار یاست فاصله مو باید کمه وي.

اتم درس :

سبقت کول(کراس کول)

تعريف: له بل واسيطې څخه مخته کيدو ته سبقت وايي.

*سبقت ته قانون هغه وخت اجازه ورکړې ده چې جاده پراخه وي، په مقابل طرف کې وسايط نه وي راروان بيا کولی سئ چې سبقت يا کراس وکړئ.
*هيڅ وسايط حق نلري چې د بل وسايط څخه پر راسته لاس سبقت وکړي که چيرې ولاړ سي جرم بلل کيږي.
*د سبقت په وخت کې يو وسايط د بل وسايط څخه يونيم متر فاصله ولري، خپل سرعت بايد دوه چنده زيات کړي.
*کله چې ګولايي وي يا جاده کمبره وي هلته د منع سبقت لوحې ولاړې وي.
*د نړۍ 40 سلنه ترافيکي حادثې په څلورلاروکې پيښيږي او 60 سلنه نورې په سبقت کولو کې.

نهم درس:

نقليه وسايطو ته لار ورکول.

په عمومي ډول جاده پر دوو برخو ويشل کيږي نيمه جاده د يوطرف وسايطو ته ورکول کيږي نيمه جاده د بل طرف وسايطو ته.
*که چيرې ستاسې وسايط تخنيکي عوارض ولري او يا مخته جاده خرابه وي تاسې نسئ کولی چې ددابل طرف وسايطو لاس ته ور واوړئ، تر هغو به انتظار کوئ چې د مقابل طرف لاس خالي سوی نه وي.

لسم درس:

*کله چې په جاده کې رش وي لاره بنده وي، پوليس ټرافيک ولاړ وي شپيلکلان وهي وسايط يوې او بلې خواته پاسوي، ايشاره هم شنه وي خو بيا هم جادې ته مه داخليږئ، ستاسې سترګې د اعتبار وړ دي کله چې لار ايله سول حرکت وکړئ.

يوولسم درس:

توقف او پارکينګ:

تعريف: توقف هغه دی چې يو وسايط بريک ونيسي.
تعريف: پارکنيګ هغه دی چې ته وسايط د ډېر وخت لپاره دروې يعني جلو ايله کړې.

*چيري چي منع توقف لوحه ولاړه وي او يا منع پارکينګ لوحه وي هلته توقف او پارکينګ دواړه منع دي.
* د ټرافيکو ۷۹مه ماده وايي که موټروان بې ځايه توقف يا پارکينګ وکړي پوليس ټرافيک کولی سي چې دی تهديد کړي، پارچه ورکړي، جريمه يې کړي او حتی لايسنس ځيني واخلي.

دوولسم درس:

تخنيکي عوارض

*قانون وايي د هرسړي وسايط چې عوارض ولري بايد د هغه څخه په هيڅ صورت استفاده ونسي.
* که چيري ستاسي وسايط د روان په حالت کي خراب او يا پنچر سي تاسي يې د جادې راسته طرف ته ودروئ.
*د چلوونکې څخه بايد دوې د عمومي خطر لوحې وي چې د وسايط د خرابيدو په صورت کي يې د وسايط مخ وشاته کښيږدي تر څو نور ټرافيک په دې پوه سي چې نوموړی وسايط خراب دی.

دياارلسم درس:

هارن وهل.

*د ښار په داخل کي هارن قطعاً منع دی هيڅوک نسي کولی چې هارن ووهي بغير د خفيفو هارنو څخه هغه چې کمپنۍ وربسته کړي دی، هغه هم د ضرورت په وخت کي.
*د سبقت په حالت کي هارن وهل غيري قانوني کار دی.
*که د منع هارن لوحې ولاړې وې په دې پوه سئ چې هلته روغتون يا کلينيک دی، په دغه صورت کي هارن وهل مطلق منع دی.

څوارلسم درس:

څراغونه (بتۍ)

*د موټر د مخ بتۍ، ژړې ايشاري، بريک بتۍ، د نمبرپليټ بتۍ او د انعکاس څښې په موټر کي قانوني څراغونه دي، ددې څخه بغير نور څراغونه بسته کول غيري قانوني دي.
*ښکاري او ګازې څراغونه بسته کول غيري قانوني دی.

*په اطرافي جادو کي د نورو وسايطو پر چلوونکو بټی لګول غيري اخلاقي او غيري قانوني کار دی.

پنځلسم درس:

سوارلی(سپاريان)

*کله چي موټر جوازسير ورکول کيږي په جوازسير کي د موټر د سوارليو اندازه ټاکل سوي. مثلاً په سراچه کي د ډريور سره پنځه نفره اجازه سته، بس يا ۳۰۳ موټر ته د ۴۷ نفرو اجازه سته، تر دې اضافه سواريان پورته کول غيري قانوني کار دی.
*ځينو وسايطو ته بيا بغير د چلوونکې څخه د بل نفر اجازه نسته لکه بايسکل او ټکټر.

شپاړسم درس:

د سواري کيافه(شکل)

*قانون چلوونکي ته وايي کله چي تاسې سواري پورته کوئ د هغه کيافې او شکل ته بايد په دقت وګورئ، که د هغه سره مخدره مواد وه او يا وسلې ورسره وې مه يې پورته کوئ.
*د دربست موټر کرايه د يوه ځايه څخه تر بل ځايه زر افغانۍ ده سواري تاسې ته پنځلس سوه درکوي، چلوونکئ بايد په دې پوه سي چي يو علت سته .
* کله چي ستاسي سره په موټر کي مشکوک سواري يوځای سي تاسي د لارې په جريان کي د پوليسو د پوستې بغل موټر د اوبو په بهانه ودروئ پوليس ته خبر ورکړئ، هغه راځي سواري تلاښي کوي که خطرناکه وي تاکوي يې او که نه وي بيرته پر خپله لار ځئ، شک به مو ختم سي.

اوولسم درس:

د بارداره موټر د بار اندازه.

*د بارداره موټر لپاره په جوازسير کي د بار اندازه ټاکل سوې ده، د هغه اندازې څخه اضافه بار موټر ته اچول غيري قانوني کار دی.
*مثلاً په يو لارۍ موټر کي ۱۰ ټنه د بار جواز سته که تاسې تر دې اضافه ور واچوئ پوليس ټرافيک کولی سي چي تاسي تهديد، جرمانه او يا لايسنس درڅخه واخلي.

* په لارې موټر کي د بار اچول يوازي د هغه تر بانډيه پوري محدود دی ، که باره تر بانډې يوې او بلي خواته تير وي دا غيري قانوني دی. بغير د هغه شرکتونو څخه چي هغه ددولت سره پروتوکول لري، د پروتوکول په اساس که بار د لارې تر بانډې اضافه وي يو طرفه بل طرف او شاته دي يي سور ټاټ وځړوي.

اتلسم درس:

د کلينر مسوولیت.

*عموماً په بس او يا لارې موټر کي د موټروان سره دوهم کس د کلينر په حيث ورسره وي، کلينر ته دموټروان په رقم خاص جواز ورکول کيږي، ۱۸ کاله عمر ولري د کورنۍ اجازه ولري، بيا نو کلينري کولی سي.

* کلينر که په بس موټر کي وي په سوارليو بايد وګرځي چي لاس ونه باسي او يا په بس کي بې ځايه ونه دريږي.

او که په لارې موټر کي وي بايد پر بار وګرځي پر ټايرو او يا نورو پرزو وګرځي.

*موټروان بايد دسوارليو سره باندار ونه کړي، په سګريټو ځان اخته نکړي او د چا په خوښه رفتار ونکړي قانوني بايد مخته ولاړ سي.

نولسم درس:

*کوم وسايط چي په ساعت کي تر ۳۰ کيلومتره تيزوالی ونلري هيڅ کله د موټروې جادې ته نسي داخليدای، پر فرعي سړکانو بايد ولاړ سي، که فرعي سړک نه وو بيا نو کولی سي چي جادې ته داخل سي خو پر راسته طرف به ځي اضافه بار او غوټي به نه پر ايږدي.

لکه بايسکل، کچر، آس...

شلم درس :

ترافيک

مور مخکي ويلي وه چي هر شی چي حرکت او مرور لري هغو ټولو ته ټرافيک ويل کيږي.

ځيني ټرافيک د انسان او حيوان په قوت او طاقت سره چلول کيږي.

مثلا :د آس ګاډۍ؛ قانون وايي هر هغه څوک چي د آس ګاډۍ چلوي هغه بايد په قوت او طاقت کي وي.

آس کنټرو کړای سي.

مختليف کالي وليږي، او پر جاده باندي وانښه وراچول يا ټرل هم منع دي.

يويشتم درس :

پياده

تعريف: پياده شاملين: هغه اشخاص چې د نقليه واسطو له استفادې نه پرته په عام واټ باندې حرکت کوي.
*قانون پياده شاملينو ته حق اوليت ورکړي، که هر وسايط والا د پياده سره ټکر کوي قانون يې ملامتوي.
*هيڅ وخت پياده په چا نه ملامتيږي، ځکه پياده شاملينو ته کورس نسته، ټول وسايط چلوونکئ د قانون تر چتر لاندې راځي .ځکه ټرافيکي اصول يوازې ددوی لپاره دي، هر وسايط چلوونکئ بايد په ټرافيکي اصولو اګاه شخص وي.
*پياده شاملين ته لازمه ده چې پر پياده روونو حرکت وکړي، او پياده شاملين چې تر سړک اوړې دري طريقې لري.
۱ :طريقه يې داسې ده کله چې پياده تر سړک اوړې چيرې چې ټرافيک وي هلته به ټرافيک ته ناره کوي چې راسه ما تر سړک واړوه.
۲ :طريقه يې د پياده رو لوحې دي کله چې هغه ولاړې وي پياده شاملين حق لري چې تر سړک تير سي.
۳ :طريقه د کوچنيانو ده کله تاسې خپل کوچنيان مکتب او يا بازار ته استوئ لاربنوونه ورته وکړئ چې پر سړک اوړئ لاسونه يو له بل سره ونيسئ شاوخوا وګورئ بيا تير سئ، که چيرې يو وسايط پر تاسې راورسيږي وارخطا کيږئ مه ودريږئ چې وسايط تير سي بيا تاسئ تير سئ.

دوه ويشتم درس:

پياده رو د کاروبار لپاره ندی

*پياده رو د پياده تګ لپاره دی، کواټ پر ايښودل، ترکاري باب پر خرڅول او يا ريړۍ پر درول غيري قانوني کاردی.
*ټول پياده شاملين لکه کوچنيان، ښځې، ځوانان او سپين ږيري دي پر پياده ولاړ سي.

درويشتم درس:

حيوانات جادې ته داخلول

*کله چې يو څوک حيوان جادې ته داخلوي قانون وايي پر داسې وخت بايد داخل سي چې نور وسايط جادې ته نه وي داخل سوي.
*هغه حيوانات لکه پسونه، غوايان، اوښان او يا نور حيوانات چې کله ګنج ته بياياست او يا په

ښار کي رمه تېروئ بايد د ملا پر آذان جادې ته داخل سئ، پدغه وخت کي په جاده کي د وسايطو ګڼه ګوڼه نه وي.
*کله چي رمه جادې ته داخليږي بايد دې نفره ورسره وي يو په سر کي بل په مينځ کي بل په پای کي ترڅو رمه په ښه طريقه سره تر جادې تيره سي.
*که ناوخته سوی وو بيا دي نو خپل حيوانات پر فرعي سړکونو تر خپل هدفه ورسوي، که چيرې چا د حيواناتو سره ظلم کوئ، پوليس ټرافيک حق لري چي ظلم کوونکئ تهديد او يا پنځه افغانی جريمه ورکړي.

څلور ويشتم درس :
ټرافيکي حادثات

تعريف: هغه تصادم يا پيښه چی په عامه واټ باندی پيښيږی او د واټ د ترافيکو سره اړيکی ولری او مالی يا ځانی زيان د ځان سره ولري.
ټرافيکي حادثات پر دري ډول دي ۱:خفيفه حديثه۲ :متوسطه حديثه ۳ :شديده حديثه.
تعريفونه :خفيفه حديثه هغه ده چي ددوه او يا ددرو سوو افغانو زيان په کښي رسيدلی وي.
متوسطه حديثه: هغه حديثه ده چي مالي زيان ولري خو ټپه يا مړی نه وي په کښي سوی.
شديده حديثه: هغه حديثه ده چي مړی او يا سخت ټپي په کښي رامينځته سوی وی.
*هره حديثه جرم دی خو که چيرې تاسي حديثه پيښه کړې وي، د بټيو او هندارو ټوټې مو پر هغه ځای پرېږدئ موټر پر راسته لاس د سړک پر غاړه ودروئ مشکل مو سره حل کړئ.
*که خفيفه حديثه وه مشکل مو په خپله سره حل کړئ او که نه سره قانع کېدلاست بيا پوليس ټرافيک ته خبر ورکړئ، هغه ټوله جريان ګوري ملامت او سلامت معلوموي.
*د ټرافيکي حديثې څخه په هيڅ صورت تيښته نسئ کولی، خو په دوه صورته کي بيا کولی سئ په شرط ددې چي بيرته موجود سئ.
۱:کله ټکر يا حديثه وکړئ ټپيان روغتون ته رسوئ، خو بيرته به د پيښې ځای ته ځان رسوئ.
۲ :کله چي تاسې ټکر وکړئ سړی مو په مړ او يا سخت ټپي کړ، قربيان يې پر تاسې راغورځي تاسې پر خپل مرګ بيرېږئ تاسې دم په دمه نژدې پوليسو ته ځان په ګير ورکړئ.
*که چيرې تر حديثې وروسته يو څوک وتښتي جرم يې يو په دوه کيږي، که يې حبس شپږ مياشتي وو هغه کال کيږي او که کال وو هغه به دوه کاله کيږي، يعني په هيڅ صورت بايد د حديثې ځای ترک نه کړل سي.

پنځه ويشتم درس :
کمک اوليه

*کله چې یوځای ټکر کیږي ټکر کوونکې مکلف دی چې د زخمي سره کمک اولیه وکړي، راپورته یې کړي، وینه یې په ټوکر وربنده کړي او روغتون ته یې انتقال کړي.

لوحې.

د ټرافیکو په قانون کې اته ډوله لوحې دي.

۱ :اخطاریه لوحې

۲:حق اولیت لوحې

۳ :منع کوونکې لوحې

۴:هدایت ورکوونکې لوحې

۵:معلومات ورکوونکې لوحې

۶: تأسیسات

۷: برقي ایشاري(سیګنالونه)

۸: خط اندازي.

لومړی اخطاریه لوحې.

هغه لوحې چې مثلث شکل لري او یا دري کونجه وي دې ته اخطاریه لوحې ویل کیږي.

عمومي خطر: قانون وایي چې دغه لوحه بادید د ډریور سره دوې دانې ورسره وي کله چې یې موټر خراب سو یوه دي د موټر شاته یوه مخته په سل متری کې کښیږدي. نور ټرافیک باید په دې پوه سي چې دلته خطر دی

قاعده راست په چپ: دا په اطرافي جادو کي درول کیږي، کله دغه لوحه پر چوک ولاړه وي حق اولیت د راسته لاس دی.

راسته لاس ته ګولایي: دا لوحه تاسي ته خبر درکوي چې پر راسته لاس په سل متری کي ګولایي واقع ده.

چپه لاس ته ګولايي: که ګولايي ته په سل متری کي دغه لوحه ووينې سبقت هم مه کوه، سرعت کم که، موټر مه دروه ...

راسته لاسته ډبلي ګولايانی: عيناً لکه سينګله ګولايي سبقت مه کوه، سرعت کم که، موټر مه دروه او د سړک پر مينځ مه ځه

چپه لاسته ډبلي ګولايانی: سبقت مه کوه، سرعت کم که، موټر مه دروه او د سړک پر مينځ مه ځه

متقابل ترافيکي خطر: کله چې يک طرفه جاده د موقت وخت لپاره دو طرفه سي دغه لوحه درول کيږي، متقابل وسايط بايد احتياط وکړي.

ددوو طرفو څخه د جادي کم عرضه کيدل: کله چې دو طرفه جاده کمبره کيږي دغه لوحه مخکي درته راځي.

لس فيصده سربلندي يا اترايي: په اترايي کي سبقت کول، موټر درول، تيز سرعت ټوله خطر پيښوي.

لس فيصده چرايي: دا هم عيناً لکه اترايي سبقت کول، موټر درول، تيز سرعت ټوله خطر پيښوي.

جمپ: کله چې دا لوحه ووينئ په دې پوه سئ چې مخته جمپ سته.

د ښويدو خطر: کله چې دا لوحه ووينئ په دې بايد په ياست چې مخته سالنګ، يخک او يا واوره ده.

تونل: دغه لوحه خبر درکوي چي تاسي ته په مخکي تونل راځي.

د غره څخه د ډبرې د رلويدو خطر: دغه لوحه لارښوونه کوي چې د غره په څنګ کې مه درېږئ د ډبرې درالويدو امکان ستە.

د خامه سړک خطر: کله چې تاسې ددغه لوحې سره مخ سئ پوه سئ چې سړک خامه دی.سرعت کم کړئ.

د کوچنیانو تیریدل: دا لوحه د مکتوبو او مدرسو مخته درول کیږي، ډریور ته اخطار ورکوي چې ودرېږه، حق اولیت د کوچنیانو دی.

پیاده رو: دغه لوحه ډریور ته اخطار ورکوي چې سرعت کم که پیاده شاملین تیریږي.حق اولیت د پیاده شاملینو دی.

د باد لوري ټاکي: دا زیات وخت په میدان کې درولو کیږي د باد لوری معلوموي ټیلوټ ورته ګوري چې باد کم لوري ته دی.خو هغه هیوادون چې سخت طوفاني بادونه لري د موټرو لپاره هم دغه لوحې ولاړې دي.

د اهلي حیواناتو تیریدل: دا لوحه په عیني شکل د اهلي حیواناتو لپاره ده، قانون وایي که چیرې حیوان په موټر ووهي دوسیه ورته جوړیږي.

د وحشي حیواناتو تیریدل:که چیرې دغه لوحه ولاړه وي ډریور ته اخطار ورکوي چې سرعت کم که په احتیاط حرکت وکه، کوم حیوان ونه وهي.

ترساختماني کار لاندې جاده : دلته سړک جوړیږي، پینه کیږي او ترمیمږي ډریور ته خبر ورکوي چې سرعت کم که.

د اوبو د تاوان خطر: کله چې دغه لوحه ولاړه وي پوه سئ چې سړک او یا پُل اوبو وړی دی، سرعت کم که .

ترافيکي برقي ايشاري: دغه لوحه خبر درکوي چې مخته برقي ايشاري دي.

دوهم : د حق اولیت لوحې.

*که چیرې موټر چلوونکئ حق اولیت مراعات نکړي، ټکر رامینځ ته سي، بیا نو مسوولیت ټوله ده ته راجح کیږي.



عمومي جاده: عمومي جادې ته حق اولیت ورکول سوی که موټر پر عمومي جاده روان وي د فرعي جاده څخه بل موټر راوزي ټکر سره کوي مسوولیت د فرعي جادي والا دی.

عمومي جاده ختمه سوه: کله چې عمومي جاده ختمه سی دغه لوحه ولاړه ده خبر درکوي چې نوره اطرفي جاده شروع سوه.

حق اولیت د عمومي جادي دی: په اطرافو کي پر عمومي جاده که دوه فرعي سړکونه مخ په مخه ول حق اولیت د عمومي جادي دی.

نظر فرعي جادې ته د عمومي جادې حق اولیت : د راسته لاس فرعي جادې ته عمومي جاده حق اولیت لری.

نظر فرعي جادې ته د عمومي جادې حق اولیت : د چپه لاس فرعي جادې ته عمومي جاده حق اولیت لری.



حق اولیت مراعاتول: که دغه لوحه دفرعي جادې په خوله کي ولاړه وه، شاوخوا وګوره حق اولیت مراعات که او تیر سه.

نوټ: ۱-که د فرعي څخه عمومي جادې ته موټرداخلیږي او دوی یو له بل سره ټکر وکړي، ټکر که د موټر د مخ پر طرف وو مسولیت فرعي جادې دی۲- که نیم راوتلی وي نیم عمومي او نیم فرعي جادې والا ته متوجه کیږي۳- که تاوان د موټر د شا طرف ته رسیدلی وو مسوولیت د عمومي جادې والا دی، ده باید خپل موټر کنټرول کړی وای.



ودریږه حق اولیت مرعات که : که دغه ستاپ لوحه ولاړه وه، پدې پوه سه چې پر عمومي جاده ډیر رش دی.

انتظار کول حق اولیت مخامخ ټرافیک ته ورکول: کله چې سړک ترمیمیږي، دغه لوحه درول کیږي.

مقابل ټرافیک باید انتظار وکړي: دغه لوحه پر تنګو پلو یا جادو درولو کیږي، لکه سربند پل، که سپین تیر ستا پر لاس وو حق اولیت ستا دی.

دريم : منع كوونكي لوحې.

دا هغه لوحې دي چې تاسې د يو کار څخه منع کوي.

يک طرفه جادې ته داخليدل منع دي: کله چې دغه لوحه ولاړه وي، هيڅ وسايط يک طرفه جادې ته نسي داخليداى.

د ټولو وسايط پر مخ بنده جاده : دا په اساسو خايو کې درول کيږي لکه د ګازو سټيشن، ډيپوګان او يا نور خايونه.

که په لوحه کې د موټر عکس وو پوه سئ چې جادې ته موټر داخليدل منع دي.

که په لوحه کې د موټر سايکل عکس وو، پوه سئ چې جادې ته موټر سايکل داخليدل منع دي.

که په لوحه کې د بايسکل عکس وو، پوه سئ جادې ته بايسکل داخليدل منع دي

که په لوحه کې د ټکټر عکس ووينئ، پوه سئ چې جادې د ټکټر داخليدل منع دي.

که په لوحه کي د آس د ګاډۍ عکس ووينئ، پوه سئ چې جادۍ ته د آس د ګاډۍ داخليدل منع دي.

که په لوحه کي د بارداره موټر عکس ووينئ، پوه سئ چې جادۍ ته د بارداره موټر داخليدل منع دي.

که په لوحه کي د لاس د کراچۍ عکس ووينئ، پوه سئ چې جادۍ ته د لاس کراچي داخليدل منع دي.

که مو ټوټل موټر تر اووه ټنه اضافه وو جادۍ يا پله ته داخليدل يې منع دي.

که چيرې باربرۍ موټر تر اووه ټنه اضافه بار په موټر کي ولري جادۍ ته داخليدل منع دي.

که د موټر پر اکسل تر پنځه ټنه اضافه بار پروت وو، جادۍ ته داخليدل يې منع دي.

که جاده کمبره وه، دوه نيم متره او يا اضافه تر هغه جادۍ ته داخليدل منع دي.

که وسايط دري نيم او يا اضافه تر هغه جګوالی درلود جادۍ ته داخليدل يې منع دي، شايد هلته هوايي پل او يا بل څه وي.

که د وسايط اوږدوالی لس او يا اضافه تر هغه وي، جادۍ ته داخليدل يې منع دي.

راسته لاسته ګرځيدل (کاتيدل) منع دي

چپه لاسته ګرځيدل(کاتيدل) منع دي.

بيرته راګرځيدل منع دي: که تاسي پر جاده روان ياست بيرته نسئ راګرځيدلی، شايد لاره بنده سي.

سبقت منع دی: که دا لوحه ووينئ سبقت(کراس) کول منع دي.

سبقت کولی سئ: که دا لوحه ووينئ تاسي آزاد ياست چي سبقت وکړئ.

غټ موټر سبقت نسي کولی: ځکه د غټ موټر سرعت کم او د کوچني دا زيات دی.

غټ موټر سبقت کولی سي

تر 50 اضافه سرعت منع دی: که د جادې پر غاړه دا لوحه وي تاسئ نسئ کولی چي تر 50 اضافه سرعت وکړئ.

تر 50 اضافه سرعت کولی سئ: داسي سرعت چي ته پر خپل موټر حاکميت ولري.

هارن وهل منع دی.

توقف منع دی : که دا لوحه ووینئ تاسي هلته توقف نسئ کولی.

پارکینګ کول منع دي.

پارکینګ کولی سئ

د وخت مطابق پارکینګ نسئ کولی: که وخت والا لوحه ولاړه وي، پوه سئ چي ددغه وخت څخه تر دغه وخت پوري پارکینګ کولی منع دی.



که معین وخت پوره سي وخت والا لوحه دغه شکل ته اړوي بیا کولی سئ پارکینګ وکړئ.

د ګمرک محل : که دا لوحه ووینئ پوه سئ چي دلته هغه وسایط توقف کوي چي په ګمرک کي یې کار وي.

حق العبور : کله چي د یوه ولایت څخه تر بل ولایت پوري څئ حق العبور غرفی پرتي دي، یوه اندازه پیسي د وسایط څخه اخیستل کیږي بیا د سړک په ترمیم کي مصرفیږي.

څلورم : هدایت ورکوونکې لوحې (امریه).

دا هغه لوحې دي چې تاسې ته هدایت او لارښوونه کوي

مخامخ لور ته حرکت

راسته طرفته حرکت

چپه طرفته حرکت

راسته طرفته ګرځيدل

چپه طرفته ګرځيدل

مخامخ او راسته طرفته حرکت

مخامخ او چپه طرفته حرکت

جاده راسته او چپه طرفته ګرځي

راسته طرفته کښته کېدونکي

چپه طرفته کښته کېدونکي

ترافيکي څرخ يعني دايروي چوک

د بايسکل سړک

پياده سړک

موټرونه بايد په خنځيري جينو سره مجهز وي

حداقل سرعت بايد په ساعت کي تر 30 کيلومتر کم نه وي

د حد اقل سرعت ختم سو

پنځم: معلومات ورکوونکي لوحي.

دا هغه لوحې دي چې تاسې ته معلومات درکوي، کله چې تاسې يو بنار ته داخليږئ او تاسو ددغه لوحو سره بلد ياست بيا نو ستاسې بنه لارښود کېدای سي.

د تیلو پمپ : د لوحه ووینئ پوه سئ چې د تیلو پمپ دی.

ورکشاپ: که دا لوحه ووینئ مستریخانه یا ورکشاپ دی.

د تلیفون کولو غرفه : دلته د تلیفوني اړیکي د نیولو غرفه ده .

مسافرخانه: دلته د مسافرو لپاره مسافر خانه ده

رستورانت: دلته خوراک لپاره رستورانت دی.



سره میاشت : دلته اولیه کمکو لپاره د سرې میاشتې دفتر دی.

روغتون: دلته د تداوی لپاره ورتلی سئ.

تفریگاه: که دالوحه ووینئ پوه سئ چې پارک دی.

د استراحت محل: د سفر پر مهال دلته استراحت کولی سئ.



د بس تم ځای: د بس ددریدو ځای

د ټکسي تم ځای: د ټکسي د دریدو ځای.

د معلومات غرفه : که نابلده یاست دلته کولی سئ چې د یوځای په اړه معلومات وکړئ.

پارکینګ: دا لوحه دا راښيي چې دلته پارکینګ دی.

د پیاده رو دهلیز: که دغه لوحه ولاړه وي لاربښوونه کوي سرعت کم کړئ، حق اولیت د پیاده دی.

هوايي پُل يا تر ځمکې لاندې پیاده رو.



د یکطرفه جادې جریان: دا لوحه ښيي چې یکطرفه جاده جریان

د یکطرفه جادې شروع: دا لوحه دا راښيي چې دلته یکطرفه جاده شروع کیږي.

جاده ختمه ده.

د خط السير تنظيم کول راسته طرفته : دريور ته بايد خپل خط السير معلوم وي، ترڅو هغه طرف قيد کړي.

د خط السير تنظيم کول مخامخ لور ته: که دريور مخامخ ځي د سړک مينځ قيدوي.

د خط السير تنظيم کول راسته طرف، مخامخ طرف او چپه راسته طرفته .

د ښاري حدودو د شروع کيدو لوحه

د ښاري حدودو د ختم لوحه

د کوتل د معلومولو لوحه : دا لوحه درښيي چې په مخکې سالينګ درته راځي.

د لويو ښارو د ليرې والي او په کيلومتر داندازې ښوولو لوحه.

د ولايتونو د مسير د معلوماتي لوحه.

د ولايتونو او ښارونو د مسير معلوماتي لوحه

د جادې اوږدوالی: دا لوحه د جادو په سر کې درول کیږي، تاسو ته ښیی چې دا جاده دونه متره ده .

په ښارونو کې د محلونو د مسیر د معلومولو لوحه

د ولایتونو او ښارونو د مسیر معلوماتي لوحه: دا لوحه ددوو جادو په تقاطع کې دیږي.

په داخل د ښار کې د محلونو د ښوولو لوحه .



په ښاري یا اطرافي جادو کې د وات د معلومولو لوحه.

دا لوحه د جادې یا سړک نمبر ښیي.

په داخل د ښار او ولایاتو کې معلوماتي لوحه



په داخل د ښار او ولایاتو کې معلوماتي لوحه

ښه داخل د ښار کې د غټو محلونو دښودلو لوحه: لکه عینومینه،

د ولایاتو په سطحه انحراف: مثلا سالینګ بند دی، پر چوک ارغندی دا لوحه درپرې چې پر میدان وردګ او بدخشان تیر سه مزارې ته خان ورسوه

ترافیکي انحراف: که چې سړک ترمیمیږي او یا لار موقتي بنده سي نو بیا دا لوحه درپرې چې وګرځه.



ترافیکي انحراف: که چې سړک ترمیمیږي او یا لار موقتي بنده سي نو بیا دا لوحه درپرې چې وګرځه.

شپږم قسم : تاسیسات او یا ترافیکي جزیرې.

دا لوحې د لرګې او یا چادر څخه جوړې دي، پر چوکو ولاړې وي د ویکټور لوری چې هر طرف ته وي تاسې ته هدایت کوي چې هماغه طرفته ولاړ سئ!

چپه او راسته طرفته ولاړ سه

چپه طرفته ولاړ سه

راسته طرفته ولاړ سه

انسدادیه(بندوونکي) لوحه : کله چې سړک ترمیمږي دغه لوحې درول کیږي.سړک په بندیږي.

انسدادیه(بندوونکي) لوحه : کله چې سړک ترمیمږي دغه لوحې درول کیږي.سړک په بندیږي.

دوو شاخو چپه او راسته طرفته ته د تګ لارښوونه کوي.



مخروطه : عموماً که دا پر جاده ولاړي وي هلته لار په بندوي.

سیاري لوحي که سړک جوړیږي او یا ترمیمیږي دغه لوحي د موقت وخت لپاره درولو کیږي

راسته لاسته لږ کوږوالی: دا لوحي په اطارافي جادو کي درول کیږی تاسي ته ښیي چي جاده معمولي کږه ده

چپه لاسته لږ کوږوالی: دا لوحي په اطارافي جادو کي درول کیږی تاسي ته ښیي چي جاده معمولي کږه ده

اووم قسم : ترافیکي برقي ایشاري(سکنالونه)

هغه ایشاري دي چي د عامه نظم د تنظیم لپاره پر چوکو او جادو درول کیږي.



ودریږه



د تګ لپاره اماده ګي ونیسه/ د دریدو لپاره اماده ګي ونیسه.



حرکت وکه

اتم قسم : خط اندازي.

مستقيم خط: كه پر يوه خط روان يې بل خط ته تاير نسي اړولی.

دوه مستقيم خطونه : دا د ګلدان معنی ورکوي، نه پر شا راتلای سي نه پر خط تاير اړولی سي.

قاطع خطونه: هم د يوه لاس چلوونکو او هم دبل لاس چلوونکو ته اجازه ته پر سړک راوګرځي خو د نورو مزاحمت به نه کيږي.



مستقيم او قاطع خطونه: د مستقيم خط چلوونکئ اجازه نلري چې راوګرځي د قاطع طرف يې لري.



په چاراهي يا څلور لاري کي په خط اندازی سره حدود ښودل سوي.

پياده رو : دا خطونه ښيي چې دلته پياده رو دی او پياده خلک تيريږي.

پوشمير ترافيکي قوانين:



لايسنس: هغه ارزښت لرونکي سند ته ويل کيږي چې چلوونکي ته تر عملي او نظري امتحان وروسته د ترافيکو له لوري ورکول کيږي.

*په لايسنس کې د چلوونکي نوم، د ويني ګروپ، مُهر او نقليه وسيله ذکر کيږي.

*بل کس ته چې لايسنس ونه لري د خپل موټر ورکول جرم دی او د موټر څښتن هم مجرم بلل کيږي.

*لايسنس يوازې هغه ولايت کې نوی کيدای سي چيري چې اخيستل سوی وي.

*لايسنس کاپي کول او ګرځول يې د اعتبار وړ نه دي، بايد اصل ولري.

*د افغانستان لايسنس په 34 ولاياتو کې د اعتبار وړ دئ .

*هر لايسنس درې کاله وخت لري.

د لايسنس اخيستو شرايط:

۱-افغان وي. ۲- اتلس کلنی عمر ئې پوره کړی وي. ۳- معيوبيت ونه لري.

عموماً لايسنسونه په دوه ډوله دي: ملي او بين المللي.

په افغانستان کې لايسنسونه پر څلور ډوله دي.

۱ - جديد ۲- تجديد ۳- ارتقاء بالدرجه ۴- مثنی ۵- بين المللي د لايسنس ډولونه دي.

۱ -جديد لايسنس: هغه کسانو ته ورکول کيږي، چې غواړي د لومړي ځل لپاره لايسنس واخلي .

۲ -تجديد لايسنس: له دريو کالونو څخه وروسته کله چې جديد لايسنس نوی سي، دې ته تجديد سوی لايسنس وايي.

۳ -مثنی لايسنس: کله چې جديد يا تجديد لايسنس ورک سي نو دويم ځل اخيستو ته ئې مثنی لايسنس وايي. د اخيستلو پروخت ئې عملي او نظري امتحان اخيستل کيږي.

۴ -ارتقا به درجه لايسنس: هغه لايسنس دئ چې د مهارت د زياتيدو وروسته له يو کاله وروسته ورکول کيږي. يعنې کله چې يو کس يو ډول واسطه کې مهارت ولري او غواړي بل ډول واسطه وچلوي نو بايد ارتقاع درجه لايسنس لپاره د ترافيکو مديريت ته ورسي. هغوی بيا رسمي اجراأت کوي.

د لايسنس اخيستو لپاره د اړتيا وړ شيان :

۱ -تأئيد سوې تذکره. ۲- د ويني د ګروپ يا صحی معاينات.- ۳- درې قطعې عکسونه .

د لايسنس کټګوري:

A پنځمه: موټر سايکل، زرنج او...

Bڅلورمه: تيز رفتاره موټرونه لکه سراچه، کرولا او...

Cدرېيمه: لوی موټرونه چې وزن ئې له 3.5 ټن څخه زيات وي .

Dدويمه: بس موټرونه چې له 7 څوکيو زياتې ولري.

Eلومړی: هغه موټر چې نور موټر کش کوي، يعنې لوی – لوی موټر چې نورو موټرونو سره د مرستې لپاره جوړ شوي دي.

*هر لايسنس يو د سرغړونې کارټ له ځانه سره لري. دا کارټ د پوره ارزښت لرونکی دئ. لايسنس له دې کارته پرته هيڅ دئ. دې کارټ کې د چلوونکي تيروتنې ثبتيږي. که تيروتنې له 3 زياتې سي لايسنس تر اخيستل کيږي.



جواز سير :هغه ارزښت لرونکی سند دی چې د نقليه واسطې مشخاص په کښې درج سوي وي، د ګمرک د محصول د تحويليدو څخه وروسته نقليه واسطې ته د ترافيکو اداري لخوا ورکول کيږي.

د مالک مکمل شهرت د واسيطې مشخصات او ځينې نور مفاهيم پکې ليکل کيږي.

*هر جواز سير څو خانې تشې لري، ترڅو د تغييراتو په وخت کې ډکې شي لکه د موټر د رنګ بدلول.

*که څوک موټر اخلي يا رانيسی غوره ، دا ده، چې يوځل ئې اسناد دخپل اطمينام لپاره د ترافيکو په مديريت کی چک کړي يا د جواز سير په امريت کي وګوري چې څه تخلفات ونه لري.

*په خپل سر د موټرونو يا دنقليه وسايطو رنګول، پرزه کول، منع دي، دترافيکو د اداری اجازې پرته جرم بلل کيږي .

ټکس لاين:

هغه کتابچه ده، چې د ټکسي موټرونو لپاره ورکول کيږي.

دوه ډوله وي: ۱- بنار ي ۲- اطرافي.

دې کتابچه کې ليکل سوي وي، چې دا موټر له دې ايستګاه څخه تر دې ايستګاه پورې حق لري سوارلی پورته کړي.

جريمه : هغه چلوونکی چې دترافيکی تختی يا دترافيکو داوصولو او مقرراتو خلاف تګ او راتګ کوي او دحادثې مرتکب کيږي دترافيکو د اداري لخوا نغدی جريمه ورکول کيږي عبارت دجريمې څخه دی .

دجريمی دکتابچی ډولونه : تر فعلاً پوري څلور رقمه دي .

۱ – سلو والا (۱۰۰) ۲ - دوو سوو والا (۲۰۰) ۳ – دري سوو والا (۳۰۰)

۴ – پنځوسوو والا (۵۰۰) .

کمربند: که څوک کمربند نه تړي نو د موټر سرعت چې څومره وي د ډېور سرعت هم هومره دئ او که ئې کمربند تړلی وي نو سرعت ئې صفر دئ نو د چلونې پروخت کمربند حتمي دئ.

ځيني قانوني دجزا مادې:

شپږم شپيتمه ماده:

(1) که څوك د چلولو د جواز له درلودلونه پرته ماشين لرونکی نقليه واسطه په عام واټ وچلوی له يوی مياشتی نه تر شپږ مياشتو پوری په حبس يا له زر افغانيو نه تر شپږ زره افغانيو پوری په نغدی جزأ محکوميږی.

(2) د نقليه واسطی مالك يا متصرف ددی خبری په پوهيدلو سره سره چی چلوونکی د چلولو جواز نه لری او هغه ته د نقليه واسطی د چلولو اجازه ورکړی تر دوه زره افغانيو پوری په نغدی جزأ محکوميږی.

اوه شپيتمه ماده:

د الکهولی مشروباتو او يا مخدره موادو له استعمال نه د راولاړی شوی نشی په حالت کښی چلول جرم دی. مرتکب د نورو قوانينو د احکامو په پام کښی نيولو سره له شپږو مياشتو نه تر يوه کال پوری په حبس يا له شپږ زره افغانيو نه تر دولس زره افغانيو پوری په نغدی جزأ محکوميږی.

اته شپيتمه ماده:

که چيری څوك د ترافيکی مقرراتو، اشاراتو، علامو او ترافيکی تأسيساتونه د سر غړونی په سبب په عام واټ باندی د ترافيکو په امنيت کښی خطر واچوی تر دری مياشتو پوری په حبس يا تر دری زره افغانيو پوری په نغدی جزأ محکوميږی.

نهه شپيتمه ماده:

که څوك د واټ د ترافيك امنيت په عمدی ډول ګډوډ کړی چی د هغه په سبب اشخاصو ته ځانی او مالی زيان واوړی، د زيان په جبرانولو بر سيره د جزأ د قانون له حکمونو سره سم مجازات کيږی.

اويايمه ماده:

که څوك عام واټ د ترافيکو د اداری د پخوانی اجازی له حصول نه پرته د تعميراتی او نورو موادو د کښيښودلو په سبب بند، کنده يا د تيريدلونه وباسی تر دری مياشتو پوری په حبس يا تر دری زره افغانيو پوری په نغده جزأ محکوميږی.

يو اويايمه ماده:

(1) که څوك د ترافيکو علامی، اشارات او تأسيسات په خپل سر په عام واټ باندی نصب او يا هغه له واټ نه ليری کړی او يايی لوری بدل کړی تر دری مياشتو پوری په حبس او يا تر دری زره افغانيو پوری په نغدی جزأ محکوميږی.

(2) که څوك د اعلان، تابلو او داسی نورو د نصبولو په واسطه ترافیکی علامی او اشارات پټ او یا ګډوډ کړی تر یوی میاشتی پوری په حبس او یا تر زرو افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

دوه اویایمه ماده:

که چیری د بناروالیو، د واټ د ساختمانی او د سرکونو د ساتنی او څارنی د مؤسسو کارکوونکی د دغه قانون د اته دیرشمی مادی له احکامونه سرو غړوی، سرغړوونکی تر یوی میاشتی پوری په حبس یا تر دوه زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

دری اویایمه ماده:

(1) که چیری د نقلیه واسطی چلوونکی داهمال،غفلت بی احتیاطی، د ترافیکی قانون، مقرراتو او یا لوایحونه د سر غړونی په سبب د دغه قانون د اوه ویشتمی مادی د دریمی فقری د مندرجی درنی ترافیکی پیښی مرتکب شی په هغه حبس چی له شپږو میاشتو نه لږ او له دری کلونو نه زیات نه وی محکومیږی.

(2) که چیری ارتکاب شوی عمل له هغو اصولو نه د غټی سرغړونی په سبب واقع شوی وی چی د فن او مسلك له مخی پری لازم وی، مرتکب په متوسط حبس چی له دوه کلونو نه لږ نه وی محکومیږی.

(3) که چیری ارتکاب شوی عمل د دغه قانون د اوه ویشتمی مادی د دوهمی فقری مندرجه متوسطه پیښه تثبیت شی، مرتکب د احوال سره سم تر یو کال پوری په حبس یا تر دولس زره افغانیو پوری نغدی جزأ یا په دواړو جزأګانو محکومیږی.

څلور اویایمه ماده:

د دغه قانون د اوه ویشتمی مادی د لومړی فقری مندرجی کوچنی ترافیکی پیښی کښی چی د سپك ټپ یا تر دری زره افغانیو پوری د مالی زیان سبب شی او د پیښی شاملین د موضوع له تعقیب نه تیر شی او د زیان په جبران کولو موافق وی، د ترافیك څارندوی د سر غړوونکی مالی تنبیه ته اقدام کوی او موضوع ته خاتمه ورکوی.

پنځه اویایمه ماده:

څوك چی د ترافیکی پیښی مرتکب شی او له ټپیانو سره له لازمی مرستی نه ځان وژغوری، د اصلی پیښی په جزأ بر سیره تر شپږو میاشتو پوری په حبس یا تر شپږ زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

شپږ اویایمه ماده:
که څوك د ترافیکی درنی یا متوسطی پیښی مرتکب شی او د پیښی له ځای نه وتښتی د اجبار د حالت په پام کښی نیولو سره د اصلی پیښی په جزأ بر سیره له شپږو میاشتو نه تر یو کال پوری په حبس یا له شپږ زره افغانیو نه تر دولس زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

د ژوند ښکلا په احتیاط کې ده.

مقدمه :

ژوند د خدای ج ستر نعمت دی، ددغه ستر نعمت ساتنه یو مسوولیت دی او مسوولین یې موږ یو. موږ ته خدای ج عقل او شعور راکړی، په دې نړۍ کې یې د اشرف المخلوقاتو په نوم نومولي یو. د عقل او شعور په واسطه یې دا توان راکړی چې د ښه او بد ترمینځ تفکیک وکړو. کله چې د ښه او بد تر مینځ تفکیک وکړای سو، ښو ته دوام ورکوو او د بدو څخه ځان ساتو. ژوند د خپل بهبود لپاره د تکامل زیات پړاوونه طی کړ، نن تر هر وخت عقل انشکاف پیداکړی د ژوند د هوساینې لپاره یې بېلابیلې وسیلې کشف کړي د همدا وسیلو له جملې څخه یې کښتۍ، طیاره او موټر هم په وجود راوړي. دغه وسیلو ته درې ډوله ترافیک هم ویلی سو بحري ترافیک، هوایي ترافیک او ځمکني ترافیک. بحري او هوایي ترافیک پر خپل ځای زموږ کار د ځمکني ترافیکو سره دی. د ځمکني ترافیکو سره یوځای ترافیکي اوصول او مقررات هم ایجاد سوي.کله چې د آس... بایسکل، موټرسایکل، موټر او ټکټر څخه استفاده کوو. لازمه ده چې په ترافیکي اوصولو او مقرراتو به پوه یو. که په ترافیکي اصولو عمل وکړو هم ځان او هم به مو نورو ته اضافه ژوند وربخښلی وي، که یې ونه کړو د ژوند په روانه لړۍ کې به مو د خطر فیصدي نوره هم زیاته کړې وي.خبره بیرته د عقل لور ته ځي عقل موږ ته د احیتاط سپارښتنه کوي، چې د وسایطو څخه په استفاده احتیاط وکړو هم به مو د ځان او به مو د نورو ژوند ژغورلی وي.

راځئ چې ترافیکي اصول مراعات کړو، هم د ځان او هم د نورو ژوند وژغورو!

په درنښت

سیف الله بسمل